# The Tradition of Gender Equality and the Khudai Khidmatgar Movement

# د صنفي برابرۍ کلتور او خدايي خدمتګار تحريک تحقيقي جائزه

**Muhammad Ali**[*]
**Dr. Farkhanda Hayat**[♣]

**ABSTRACT:**

The Khudai Khidmatgar Movement, also known as the (Servants of God) Movement, was founded by Khan Abdul Ghaffar Khan in the early 20th century. It was a non-violent political and social movement aimed at securing the rights and freedoms of Pashtuns under British colonial rule. This research paper explores the intersection of gender equality and the Khudai Khidmatgar Movement, a socio-political movement led by Khan Abdul Ghaffar Khan in the early 20th century. This paper examines how the movement influenced the cultural and social framework of Pashtun society, particularly concerning gender roles and the status of women. While the movement's primary focus was on political freedom and social justice, its impact on gender equality remains a crucial aspect of its legacy. Khan Abdul Ghaffar Khan's progressive views on women's rights led to the inclusion of women in the movement's activities, thereby challenging traditional Pashtun norms. The movement emphasized the importance of education for both men and women, promoting the idea of an egalitarian society where women had equal opportunities to participate in social and political affairs.

**Keywords**: Gender equality, Socio-Political, Women Empowerment, political freedom, social justice, Khudai Khidmatgar Movement

ښځه او سړی د يوې ټولنې دوه اهم غړي دي چې دواړه په خپل خپل ځای اهميت لري. دې دواړو نه بغير انساني ټولنه قائمه نه شي پاتې کېدی. خو په ځينې معاشرو کښې ښځو ته د صنفي تفريق په بنياد په ټيټ نظر کتلی شي چې هغوي ته

[*] Ph.D. scholar Pashto Academy, university of Peshawar.
[♣] Director, Pashto Academy, University of Peshawar.

د هغوي جائز مقام او حقوق نه ورکولی کېږي. داسې ټولنې همیشه د زوال سره مخ وي. بل اړخ ته هغه ټولنې کوم چې په صنفي برابرۍ یقین ساتي هغه د پرمختګ پړاؤنه په ښه توګه ترسره کوي. د ژوند د بقا په لاره کښې تر هر چا وړاندې وي. خو د پښتنو کلتوري ژوند ژواک کښې د مېرمنو ژوند نن هم تر ډېره حده د صنفي امتیاز ښکار دی، چې پکښې سړي او ښځې ته په جدا جدا نظر کتلی شي. که په پښتنو کښې نن څۀ نه څۀ د جنسي مساوي برابرۍ کلتور لیدی شي نو تر شا ئې د خدائي خدمتګار تحریک لوی جدوجهد پروت دی. په پښتنو کښې خدائي خدمتګار هغه تحریک دی چې د روښاني خوځښت نه ورستو ئې د پښتنو مېرمنوحېثیت او اهمیت ته په درنه سترګه کتلي دي. هغو ته ئې په خپله غېږه کښې د سیالۍ مقام ورکړی دی. که بایزید انصاري د تصوف د لارې پښتنې مېرمنې په خپله حلقه کښې راغونډولې او هغوي ته ئې د خپلو افکارو تبلیغ کولو نو باچاخان هم په شلمه صدۍ کښې د خپل خوځښت دروازې پښتنو مېرمنو ته پرانستې. د پښتنې ټولنې کلتوري ژوند کښې ئې د سړو سره سره ښځې هم په یو صف کښې ودرولې. دغه وخت د پښتنو کلتور کښې ښځه ذات د څۀ مخصوصو کارونو د کولو اله ګڼل کېده- د هغې په اړه د سړو خیالات هم ډول ډول وو. د بشرپوهنې په رڼا کښې"کلتور د هغه ټولو خیالاتو او کارونو احاطه کوي کوم چې د یو قام په داسې خصوصي ټولګې کښې موندلی شي چې په خپل شریک ژوند کښې یو شان روایات لري،او هغه د هغه ټولګي ارکان د یو نسل نه بل نسسل ته منتقل کوي"(۱).

خدائي خدمتګارو د پښتنو ښځو په اړه د منفي خیالاتو او روایاتو په مقابل کښې سنجیده مبارزه پیل کړه- پښتنو ښځو ته ئې دا هم ووئیل چې تعلیم او جدوجهد په نر او ښځه دواړو فرض دی.

د شلمې صدۍ نه مخکښې که د پښتنو معاشرتي ژوند د څۀ وجوهاتو په سبب دې مقام ته رسېدلی ؤ چې پښتنې میرمنې په کورونو کښې د نوې دنیا د ژوند نه ناخبره وې، د ژوند په هر پړاؤ د خپلو حقونو نه محرومې پاتې وې. چې نه یواځې نارینوو نه ورستو وې بلکې شخصي ژوند ئې هم د بېلابېلو ستونځو ښکار ؤ- که یو اړخ ته پکښې د تعلیم نیشتوالی ؤ نو بلخوا د ناپوهۍ او غلامۍ په زنځیرونو کښې ښکیل وې. په دغه وخت پښتونخوا کښې یو داسې خوځښت نۀ تر سترګو

کېږي چې په پښتنه ټولنه کښې دغه تضاد ته ماتې ورکړي او په ځای ئې يو داسې کلتور ته وده ورکړي چې پکښې ښځه او سړی برابر ګڼلی شي. دغه کار او زيار ته باچاخان او خدائي خدمتګارو ملا وتړله ښځو ته ئې خپل پيغام ورسولو.

د ژوند په سفر کښې ښځه ذات ورستو پرېښودل يوې ټولنې ته ګڼ شمېر مسائل رواړي چې پکښې انساني ژوند د تضاداتو ښکار شي او د بقا په ځای د تباه حالت ته درومي. په ټوله خطه کښې دا متل صرف په پښتنو کښې عام ؤ چې "ښځه يا د کور ده يا د ګور" دې بې معنې او بې مطلبه وړې جملې پښتنه ټولنه کښې د نرواکۍ حاکميت نور هم توانا کړو، پښتنې مېرمنې ئې نورې په کور دننه پاتې کړې. کله چې باچاخان او نور څو خدمتګار په دسمبر کال ۱۹۲۹ء کښې لاهور ته د هندوستان د لوئې قومي ډلې نيشنل کانګرس سالانه جلسې ته لاړ شي چې پکښې مهاتماګاندهي د پيرنګي حکومت په ضد د سول نافرمانۍ چلولو اعلان هم وکړي. باچاخان هلته د هندوانو ښځو د ازادۍ جذبې نه ډېر متاثره شي او دا خيال ئې پيدا شي چې شايد د پښتنو ښځې هم داسې بيداري شي. په دغه حقله زما ژوند او جدوجهد کښې ليکي چې:

"په دسمبر ۱۹۲۹ء کښې په لاهور کښې د کانګرس سالانه جلسه وه او د صوبه سرحد (خيبرپښتونخوا) ډېر خلک د دې جلسې لېدو له لاړل مونږ کانګرس کښې نۀ وو مونږ په خلافت کښې وو مونږ د دې تماشي له تلي وو جلسې زمونږ په ځوانانو باندې ډېر ښۀ اثر وکړو او بيا دې خبرې ډېر اثر وکړو چې ځوانان خو پرېږده د هندوانو جينکو خو هم د ملک د ازادۍ د پاره ملا تړلې ولاړې دي مونږ چې د جينکو دا رضاکارانو دا قومي جذبه نو د دې نه ډېر متاثره شو مونږ د صوبه سرحد نه تلي ټول ملګره هلته راجمع شو ما ورته ووې چې سړي خو پرېږده د هندوانو ښځې هم بيدارې شوې دي او د ملک د ابادۍ د پاره ئې ملا تړلې ده په پښتون د ښځو ډېر اثر کېږي"(۲).

لړه موده کښې د هره خوا نه ګڼ شمېر خدائي خدمتګاران د ياد تحريک غړي شول. دغه خدمتګارانو کلي په کلي د پښتنو د سماجي اصلاح تبليغ کولو کوم چې ئې د انجمن اصلاح الافاغنه د سيوري لاندې شروع کړی ؤ- پښتنو ته ئې تعليم د پاره ځای په ځای ښوونځي جوړول او د غريبانانو بچو ته ئې پکښې وړيا تعليم ورکولو. په دې تحريک کښې نۀ صرف سړو، ځوانانو او ماشومانو برخه لرله بلکې

پښتنو ښځو هم ګډون شروع کړو، د خپل وطن د ازادۍ د پاره هرې قربانۍ ورکولو ته تیارې شوې. د هر خدائي خدمتګار د کور میرمنې،لوڼه او خویندې د دې تحریک په یو نه یو شکل کښې خدمتګارې پاتې شوې دي "چې سړي به ټول په جیل کښې وو د کور پټو څارۀ، ګیا خیال به ښځو ساتلو- هم دغه وجه ده چې د صدر اسرار خدائي خدمتګار کور کښې تاج محل بي بي او زینب بي بي پیدا شوې،د فضل الرحیم ساقي په کور کښې مملکت بي بي، د یحیا ګل په کور کښې میراګۍ خدائي خدمتګاره شوه (دا دواړه ښځه او خاوند په بابړه کښې شهیدان شوي دي)،او د بنارس خان په کور کښې لیلي نهار لویه خدائي خدمتګاره وه."(۳).
ځکه چې باچاخان خپل تحریک بغیر د ښځو نیمګړی ګڼلو هغوي پښتنو ښځو ته دا هم وئیل چې سړي تاسو ته ستاسو حقونه نۀ شي درکولی، بلکې دا حقونه به تاسو په خپل جدوجهد اخلئ،او ددې دپاره په تاسو یواځې تعلیم نه بلکې مبارزه هم فرض ده. په لړه موده کښې په دې تحریک کښې یو شمېر ښځې شاملې شوې په جلسو کښې به ئې ګډون کولو او په جلسونو کښې به هم مخکښې مخکښې وې چې پېرنګي به خپلو پروپېګنډو ته نور هم زور ورکړو باچاخان وائي:
"مونږ چې به هر چرته لاړو نو ښځې، نر، واړۀ، زاړۀ به راسره ټول روان شول نو ملایانو دا فتوه ورکړه چې باچاخان دجال دی. د دجال په حقله دا مشهوره ده چې دی راشي نو ښځې نر او ماشومان به ورپسې وي ملایانو به خلکو ته وئیل چې تاسو نۀ ګورئ ښځې زاړۀ واړۀ ورپسې دي"(۴).
باچا خان پوهېدو چې په یوه محکومه او نرواکه ټولنه کښې دا خبرې عبث دي هغوي د دې خبرو پروا چرې هم نه وه کړې. هغوي ته د ملا رول هم معلوم هم ؤ او د پیرنګي چال هم. خدائي خدمتګارو د دې هر څۀ باوجود پښتنې ښځې د عمل په میدان کښې فعاله کړې ځکه چې په پښتنې ټولنه کښې له سلګونو کلونونرواکي په ښځو ولاړه وه چې هغوي ئې په کور او بهر دننه د ټولینزو حقونو بې برخې ساتلې وې چې ورته په تعلیم، سیاست، روزګار، فېصلې او دغه شان د ژوند په ټولو چارو کښې موقع نه ورکولی کېده. خدائي خدمتګارو د خپل تحریک د لارې د دوي د جائزو حقوقو ورکولو لپاره مبارزه وکړه، د ښځو غورېونو ته ئې خپل پېغامونه رسول په کوم یو کلي کښې به چې باچاخان جلسه کوله نو اکثر ښځې به ورته په خپلو خپلو کوټو ختلې وې چې په هغوي به د باچاخان خبرو ډېر اثر کولو او د خپل

حقوقو او خپل سماجي مقام او قوت نه هم خبرېدې. خدائي خدمتګارو به وئيل چې د ښځې د عزت دا معنا نۀ ده چې هغه د کور دننه قيد وساتلی شي،بلکې کۀ مونږ غواړو چې خپلو ښځو ته په صحي معنو کښې عزت ورکړو نو دوي ته به په ټولو ټولنيزو چارو کښې لکه تعليم، سياست، روزګار،کاروبار، مشوره او دغه شان د ژوند په نورو لارو چارو کښې برخه ورکول دي. اتړچند ليکي چې:

"يو خوځښت چې باچاخان په سرحد ايالت ( خيبر پښتونخوا) کښې راوست هغه په ښځو کښې ويښتابه رامنځته کول وو- په کال ۱۹۳۱ء کښې د بعضې ښځو په ځواب کښې غفار خان وويل دا د هغه خدای مهرباني ده چې نن زمونږ بې تعليمه او نالوستې ښځې د ملي خدمت د ترسره کولو د پاره هرډول قربانۍ ته چمتو دي. خدایءِ د نارينه او ښځينه تر مينځ توپير نۀ دی کړی که چرې څوک د بل نه ښه کېږي هغه يواځې د هغه د ښو اخلاقو او اعمالو له د امله دي. که چرې تاسو تاريخ ولولئ نو په ښځو کښې به ډېرې شاعرانې او عالمانې ووينئ دا زمونږ ستره تېروتنه ده چې ښځې مو ورستو پرېښې دي"(۴).

د خدائي خدمتګار تحريک د جدوجهد په دې سفر کښې ښځې او سړي بيل بيل نه بلکې په يو صف کښې ودرېدل. دا ئې څرګنده کړه چې زمونږ کلتور کښې ښځه او سړی يو برابر دي "په پښتنو ښځو د خدائي خدمتګار تاثير ؤ چې دوي له سړيو سره څنګ په څنګ مبارزه کول غوښتل او د مبارزې کولو لپاره د مبارزې ډول ئې تعريف کړو- د خدائي خدمتګار بېلابېلې کړنې د پښتنو ښځو په اړه بحثونو ته لاره هواره کړه په دغه بحثونو کښې سړيو او ښځو دواړو برخه واخسته"(۵).

پښتنو ښځو په خپله وليدل چې د خدائي خدمتګار تحريک دروازې مونږ ته خلاصې دي د خپلو نارينه سره به دغه تحريک اوس مخ په وړاندې بوځو- تر هغه به په قلاره نه کښينو تر کومې چې مو قامي ګټه ترلاسو کړې نه وي. د دغه تحريک په برکت په ښځو کښې دومره پوهه راغله چې خپلو خاوندانو او وروڼو ته به ئې هم د ازادۍ په جنګ کښې ډاډ ورکولو چې بې شمېره مثالونه ئې موجود دي. دلته د صوابۍ د مرغز کلي د بي بي جان د خط يوه ټوټه نقل کوم چې په ۱۹۳۰ء کښې ئې خاوند د هري پور جيل کښې قيد وي چې دا خبر شي نو د خط په جواب کښې ليکي چې:

"زۀ هم په هغه ښځو کښې د ناستې جوګه شوم چې د چا خاوندان د ازادۍ په جنګ کښې قید پراتۀ دي"(۶).

دا پښتنې مېرمنې دومره په بهادرۍ سره د باچاخان د عدم تشدد فلسفې سره کلکې ودرېدې چې په سپاسنامه کښې ئې ورته دا پیغام ورکړو چې: "مونږ ټول دا وعده کوؤ که چرې د حکومت د طرف نه په مونږ زنانؤ زور ظلم شروع شي نو په ډېر صبر سره به ئې برداشت کوو"(۷). موکلیکا بینرجي په خپل کتاب the pathan unarmed کښې یو ځای لیکلي دي:

> "One young bride on her wedding night sent her bridegroom away to picketing and possible arrest, saying she preferred him to carry out his political duties than rest warmly with her in the nuptial bed!"(۸).

ژباړه: یوې ځوانې ناوې د وادۀ په شپه خپل خاوند د ګیراؤ او د بندي کیدو د ویرې نه لرې واستلو، او ورته وې وئیل چې خپلې سیاسي ذمه داریانې پوره کړه بیا راشه زما په توده غېږ کښې خپل د وادۀ شپه وکا.

دا هغه پښتنې په پت مئینې پېغلې وې چې نورو ښځو سره به ئې د ښکلي کور جوړولو، جامو او پیزارو سیالۍ نه کولې، بلکې د قام په ننګ به ئې د خپلو خاوندانو، زامنو او ورڼو د مېړانې سیالۍ کولې. دا به ئې خپلو سړو ته وئیل چې ورشئ د ګوراګانو خلاف باچاخان سره ودرېږئ. کله چې د یو قام د ازادۍ او ترقۍ د پاره ښځې او سړي په شریکه مبارزه کوي نو ښکاره خبره ده چې ډېر زرر خپل مرام ته رسي،او د ژوند د بقا په لاره کښې یو ګټور کردار ادا کولی شي،چې له کبله ئي ټولنیز ژوند د ترقۍ او خوشحالۍ سبب ګرځي. پښتنې ښځې پوهه شوې چې زمونږ څوک خیرخوا پیدا شو چې زمونږ د پاره دومره جدوجهد کوي.

څکه په لږ وخت کښې خدائي خدمتګار تحریک دومره توانا شو چې د پیرنګي استعمار ترې ویره پیدا شوه او تشدد ته ئې لاس واچولو خو بیا هم سړو او مېرمنو د قام د پاره د ازادۍ جنګ کولو۔ خدائي خدمتګاران پوهېدل چې پښتون قام نن په بېلابېلو مسائلو کښې بوخت دی او غاړې ته ئې د غلامۍ زنځیرونه دي. بغیر د جدوجهد نه د خلاصي بله لار نشته خو په دې جدوجهد کښې ښځو ته بلنه او عزت ورکول دي،د دوي نه بغیر مونږ هیڅ هم نه یو۔ هغوي پوهېدل چې په یو محکومه نرواکه ټولنه کښې کله هم ازادي او خودمختاري ممکن نه ده. تر هر څه

مخکښې هغوي ښځو ته عزت او درناوی ورکړ- د دې تحریک بنسټګر باچاخان تل دا خبره کوله چې"ماسره هم د خپل قام د ښځو ډېر قدر و عزت ؤ او ډېره همدردي مې ورسره وه، ولې چې زمونږ په قام کښې هم لکه د نورو مشرقي قومونو په شان د ښځو قدر نه ؤ- دوي به د سړو نه ښکته ګڼلې شوې، حالانکې پستي او بلندي په عمل ده"(۹). هغوي هر ځوک په خپل عمل او کردار پېژندل که د چا به کردار ښۀ ؤ که ښځه وه او کۀ سړی د قدر په نظر به ئې ورته کتل. هغوي کله هم نارینه ته د مرد په لحاظ درناوی نه ورکولو چې دا سړی دی ډېر قدر ئې پکار دی، او دۀ ته دې د ښځې په پرتله د قدر په سترګه وکتلی شي- تر دې چې سړو به له خپلو ښځو سره په یوۀ ځای ډوډۍ هم نۀ خوړله. بلکې هغوي د یو محکومې نرواکې ټولنې دغه بنیادونو د ماتولو سنجیده هڅه وکړه او پښتنو ته ئې روښانه کړه چې زمونږ کلتور مونږ ته د صنفي تفریق په ځای د صنفي برابرۍ ښودنه کوي:

"د پښتنو په تاریخ کښې په لومړي ځل خدائي خدمتګار تحریک(۱۹۲۹) د ښځو د سیاست او ادبي فعالیت موضوع سټریم لائن کړه د خدایي خدمتګارانو د قام، د قامي خپلواکۍ او قامي ریاست تصور نارینه نۀ ؤ"(۱۰)

هغوي د خپل تحریک دروازې ښځو ته پرانستې ځکه هم دا وجه وه چې په دې تحریک کښې د پښتونخوا وطن له ګوټ ګوټ څخه پښتنو مېرمنو برخه واخیسته. په دغو مېرمنو کښې د باچاخان تندار (چاچې) چې په کونډه مشهوره وه او میرمن نسیم ولي خان هم شامله وه. دا ډول د پښتنو په قامي تحریک پښتنې ښځې په عملي توګه شاملې شوې او هغه روایت ته ئې ماتې ورکړه چې پښتنې ټولنه یواځې یوه نرواکه ټولنه ده. ډاکټر خادم حسین پخپله یوه تحقیقي مقاله کښې په دې اړه یو ځای داسې وائي:

" خدائي خدمتګار تحریک مفکوره او مبارزه نرواکي د ملي محکومیت د یو جز پۀ صورت کښې منځ ته راوستې ده او د نرواکۍ پۀ ضد مبارزه ئې د ملي محکومیت پۀ ضد مبارزه کښې بنیادي عنصر ګرځولی دی. خدائي خدمتګار د خاورې د دانش او حکمت پۀ بنیاد د پښتونولۍ نوې تشریح وکړه او د دغې تشریح پۀ ذریعه ئې د نرواکۍ پۀ جرړو رسا ګزار وکړو"(۱۱).

له دې پرته په خدائي خدمتګار تحریک کښې هغه لیکوالې او ښځینه شاعرې هم د ذکر وړ دي چې د خپلو قلمونو په ذریعه ئې قامي مبارزه کوله. د

خپلو اغیزناکو منظومو کلامونو او مضمونونو له لارې به ئې د خپلې ټولنې د اصلاح کوشش کولی،په تعلیمي،سیاسي، معاشي، مذهبي،معاشرتي او نورو موضوعاتو ئې لیکل کول. له پښتنو مېرمنو څخه ئې د جهالت او ناپوهۍ د ختمولو د پاره منظمه مبارزه کوله خپل منظوم کلامونه او لیکنې به ئې په "پښتون مجله" کښې نشر کولې- چې په پښتني سماج کښې ئې د صنفي برابرۍ د پاره اهم کردار ادا کړ. باچاخان په دې اړه یو ځای لیکي:

"دغه شان جینکو هم سرې جامې جوړې کړې وې نظمونه ئې یاد کړي وو هغه به ئې نورو ښځو ته اورول، پښتون رساله(مجله) ئې په شوق سره لوستله چې پښتون مجله به راغله نو جینکۍ به راجمع شوې یوې جینۍ به لوستله او نورو به اورېدله په دې ډول د اخبار لوستلو شوق هم خدائي خدمتګارو پیدا کړو"(۱۲).

په دې لیکوالانو مېرمنو کښې د نوښارسیده بشرئ بیګم، سیده ادینه،نګینه بي بي، مسزایس-ایم عنایت رضیه،د هوتي مردان اقبال پروین یوسفزۍ،روشن غني،د کرک الف جان ختټکه،امینه خاتون،د میاګړهۍ یوه خور، نورجهان بیګم، ماهرسلطان او ممتازبیګم شاملې وې،بي بي آمنه بیګم په دې لاندې شعر کښې د اتفاق درس لیدی شئ:

یو پښتون نۀ شو غمخور د اتفاق　　دی په هر وطن کښې زور د اتفاق"(۱۳).

سیده بشرئ بېګم په "شابه شابه" نظم کښې پښتنو مېرمنو ته د بیدارۍ غږ کوي:

د قومو ښځې واړه شوې بیدارې
یو زمونږ غفلت ښکارېږي شابه شابه
بنده سر او مال دې واړه ور پیشکش کړه
که د قوم خدمت پرې کېږي شابه شابه"(۱۴)

دغۀ ډول د الف جان ختټکې هم زیاتره نظمیه کلامونه د پښتني ښځو د ټولنیزو ستونزو په اړه لیکلي دي چې دلته ئې یوه لنډه نمونه رانقل کوو:

راشه راشه د سرحد پښتني جلې!
چې د غم خبرې اوکړو یو تربلې
په ایمان وایه په کوم ډېران اوده وې
دازل په ورځ چې برخې وېشېدلې
د یورپ ښځې په شیش محل کښې اوسي

ته نازېږي د غوايانو په غوجلې"(۱۵)

الف جان ختټکې په خپله شاعرۍ کښې کوشش وکړ چې پښتنو ښځو ته خپل سماجي حېثيت ورپه ګوته کړي او په دې ئې پوهه کړي چې د پرمخ تللې نړۍ په خصوص د اروپا د ښځو کوم ټولنيز مقام تر لاسه کړی دی.

دلته بايد يوه يادونه وکړو چې د هم دې تحريک د مثبتو پاليسو اثر دی چې نن هم هغه سياسي ګوندونه چې د ياد تحريک تسلسل ګڼلی شي. په پښتني ټولنه کښې د صنفي برابرۍ د پاره منظمه سياسي مبارزه کوي. د پښتنو ښځو د سياسي او سماجي حقوقو د پاره منظم پروګرامونه لري. کوشش کوي چې په پښتني ټولنه کښې ښځې د سړو سره اوږه په اوږه د ژوند په هره برخه کښې کار وکړي.

پايله: د پورتني تحقيقي بحث ورسته مونږ په دې نتيجه رسو چې خدائي خدمتګار نه يواځې يو سياسي تحريک ؤ بلکې هغه د خپلې ټولنې د سماجي اړخونو د ودې او ترقۍ د پاره منظم اهداف لرل. په خصوص د پښتنې ښځو د حقوقو د پاره ئې په منظمو بنيادونو سياسي او سماجي جدوجهد کولو چې په نتيجه کښې ئې په پښتنو ښځو کښې سياسي او سماجي بيداري راپيدا شوه. هغو په لنډه موده کښې د ژوند په بيلابيلو برخو کښې د پام وړ رول ولوبو-

خو دلته بايد يوه يادونه وکړو چې د دې باوجود خدائي خدمتګاروانو په پښتني ټولنه کښې د صنفي برابرۍ د پاره سنجيده ګامونه اخستي دي. خو بل لوري ته د اهم رښتيا دي چې پښتني ښځه له تر اوسه د خپلو سياسي او سماجي حقوقو څخه محروم پاتې ده- له بده مرغه يوشمېر رجعت پسند قوتونه نۀ غواړي چې پښتنه ښځه وږه په وږه د سړيو سره کار وکړي او د ټولنې په وده او ترقي کښې رول ولوبوي.

# حوالې

(۱) Dr Tanguku sepora, Tengku Mahadi and Sepideh Moghaddas Jafari, Languge and Culture, International Journal of Humanities and Social Science, vol-2 no-17, September 2012, p.231

(۲) عبدالغفار، زما ژوند او جدوجهد، دولت مطبع، کابل،۱۹۸۳، مخ ۳۵۶

(۳) سهیل، ډاکټر،محمد، د تعلیم په حقله د باچاخان تقریرونه، باچاخان ریسرچ سنټر، پېښور، باچاخان مرکز، مخ ۱۵

(۴) عبدالغفار، زما ژوند او جدوجهد، دولت مطبع، کابل،۱۹۸۳، مخ ۳۶۰

(۵) اټرچند، باچاخان او د ازادۍ مبارزه، ژباړن، احمد زبیر ژمن، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه - جرمني، ۲۰۱۳م، مخ۷۷

(۶) ارچیوال، احمدالله، د خدائي خدمتګار کلتوري اغیزې، سروش کتاب پلورنځای، ۱۳۹۸ لمریز، مخ ۹۹

(۷) سمندر د بدرشو، پښتنې، منظور عام پریس پېښور، ۱۹۷۵، مخ ۱۴۳

(۸)کاکاخېل، سیدوقارعلي شاه، پښتنې ښځې او د قام خدمت، باچاخان ټرسټ ریسرچ سنټر، مخ ۱۰۴

(۹) Banergee, mukulika (2000) The Pathan Unarmed: Opposition and Memory in the North-West Frontier.New Delhi: Oxford University Press, p. 99

(۱۰) عبدالغفار، زما ژوند او جدوجهد، کابل دولت مطبع،۱۹۸۳، مخ۷۹

(۱۱) کاکړ، خان زمان، پښتنې لیډلوري، مخ

1 ۲۰۱۸ الف جانه خټکه، فیمنزم او خدائي خدمتګار تحریک - خادم حسین -

Pakhtoon | The Magazine (pakhtoonmagazine.com)

(۱۳)عبدالغفار، زما ژوند او جدوجهد، مخ ۳۶۴

(۱۴)هم دغه اثر، مخ ۴۱۴

(۱۵)کاکاخېل، سیدوقارعلي شاه، پښتنې ښځې او د قام خدمت، باچاخان ټرسټ ریسرچ سنټر، مخ ۶۵

(۱۶)هم دغه، مخونه **169-168**